مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ
۲۰۲۳/۰۴/۰۵

# د افغانستان جمهوریت د سقوط عوامل

## د پاکستان رول

## (دولسمه برخه)

**ښځه يي ترې بوتله، اوس حلوا پسې ورورې**

«په ۱۳۹۰ل. ل، کال د لیندۍ په میاشت کې چې کله د مومندو په ایجنسۍ کې د کرښې سره نږدې د امریکا هوایي ځواکونو د پاکستان (۲۴) تنه عسکر ووژل او (۱۳) تنه نور ژوبل شول، پاکستانیو چارواکو وویل چې د ناټو د اکمالاتو لاره یې تړلې ده او له واشنګټن یې غوښتنه کړې ده چې په پاکستان کې هغه هوايي ډګر چې امریکایان یې د خپلو بې پیلوټه الوتکو لپاره کاروي تخلیه کړي.»
په افغانستان کې د جګړې او سولې مخکښ، امریکايي چارواکی کاترملکازیان لیکي چې کیاني ځکه ډېر په غوسه وو چې د هغه پوځي حیثیت ته توهین شوی ؤ ځکه چې د امریکا هیلی کوپټرونو د هغه په خاوره کې [پر اسامه بن لادن] عملیات کړي وو او دی خبر شوی نه وو. د پاکستان يوې عمومي رای ګیرۍ وښودله چې ۶۴ فیصده پاکستانیان د امریکا د هغې حملې مخالف وو. کیاني چې د پاکستان د دفاعی پالیسۍ مسوول وو، د متحده ایالاتو خاص قوتونه او پوځي روزونکي له هیواده وایستل او په اوړي کې یې د امریکا د ډرون الوتکو حملې منع کړې. په مقابل کې متحده ایالاتو له پاکستان سره ۸سوه میلیونه ډالره نظامي مرستې وځنډولې. د پاکستان د مقاماتو غضب زیاتره د بن لادن د وژل کېدلو له امله وو او د راتلونکو دوو کالو لپاره پاکستان تر بل هر وخت د امریکا د پالیسیو سره سخت مقاومت وښود. (په افغانستان کې د امریکا جګړه. ژباړن: عبدالباري جهاني.۴۶۴)
خبري رسینو وویل هغه مهال چې په سیمه کې د طالبانو جنګیالي له افغان ځواکونو سره په جګړه وو نو کله چې امریکايي چورلکو بمبار پیل کړ جنګیالي پاکستانۍ پوستېې ته ورننه شول او چورلکو د پاکستان پوځي پوسته بمبار کړه.
د امریکا چارواکو د پېښې په اړه د تل په څېر د پاکستان پر وړاندې (د یو محتاج او پوروړو) په شان څرګندونې وکړې،«سپیني ماڼۍ د مومندو پېښې په اړه خپله اندېښنه او خواخوږي ښکاره کړه، د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلنټن او دفاع وزیر لیون پنیټا او د هغه مهال د امریکا د امنیت شورا ویاندې وویل چې له خپل متحد پاکستان سره یو ځای د پېښې په اړه څېړنه کوي او د پاکستان او امریکا په ګډه همکاري یې ټینګار وکړ.»
د اوباما له ولسمشرۍ وروسته، د امریکا د جمهوري غوښتونکي ګوند یو نوماند ډونلډ ټرمپ ولسمشر شو، نوموړی د بوش او اوباما په پرتله یو سیده ساده شخص ؤ، ټرمپ چې یو شتمن او سوداګر کس ؤ هر څه ته یې د تجارت او نغدي ګټې وټې په سترګه کتل، هغه په سیاست نه پوهیده څه یې چې په زړه وو هغه یې په خوله وو، داسې یو ځوک ؤ چې د امریکا په تاریخ کې دا ډول ساده ولسمشر نه دی تېر شوی، سره له دې چې ده به نورو ته احمقان ویل، له ټرمپ سره به چې هر ځوک کېناستل او د ده ستاینه به یې وکړه نو د هغه خبره یې په پټو سترګو منله، د ده له ساده ګۍ څخه یهودو ډېره ګټه پورته کړه، تر دې چې هغه یې وهڅولو بیت المقدس د اسرایلو پلازمینه اعلان کړي:«ټرمپ له سپیني ماڼۍ څخه اعلان وکړ چې بیت المقدس د اسرایلو پلازمینه ده او زیاته یې کړه چې د بهرنیو چارو وزارت ته یې امر کړی، تر څو د امریکا سفارت بیت المقدس ته انتقال کړي.» ټرمپ داسې یو ځوک ؤ لکه یو شاعر چې ویلي دي:

**چرګ خو یو مرغه دی**
**چې چا ونیو د هغه دی**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

هغه مهال چې ټرمپ له جوبایډن سره په ټاکنیزو هلو ځلو لګیا ؤ، ډېرې حیرانوونکې او خندوونکې خبرې یې کړې دي.«په امریکا کې د مخکښو نوماندانو ټرمپ او جوبایډن مناظرو غبرګونونه لرل. ټرمپ په دې مناظره کې په بې ادبۍ تورن شو او نړیوالو رسنیو ورباندې نیوکې وکړې. د (سي، ان، ان) تحلیلګر د مناظرې پر مهال پر خپل ټوېټر لیکلي چې باید پر ټرمپ مایک بند شي، ځکه خبرې یې ځورونکې دي. (اي، بي، سي، نیوز) بیا له ټرمپ وغوښتل چې چوپتیا غوره کړي، باید جوبایډن ته د خبرو موکه ورکړي او نوبت مراعات کړي. ډیلي ټلګراف ټرمپ د خبرو بلډوزر وباله او په خبره یې، غړېږي او خبرې کوي، پام یې نه وي چې څه وایي او بل چا ته نوبت هم نه ورکوي. د (سي، ای، اي) پخواني مشر جان برنن بیا په یوه ټویټ پیغام کې وویل چې ټرمپ د امریکا ابرو تویه کړه. د ده په خبره د ټرمپ پر حماقت، لیونتوب او بې ادبۍ باندې آفرین وایي. برنن ټرمپ له کینې ډک سړی بللی دی. امریکایي سیاستوال ریچارډ هاس ویلي د ټرمپ چلند په امریکا کې خلک ځورولي دي او په وینا یې امریکایي وګړي د داسې بې مانا ننداري د لیدلو لایق نه وو.» (https://www.spogmairadio.com)

د ټرمپ په دومره کمرزوریو او حماقت کې یوه هوښیاري هم پټه وه چې هغه د ده هغه سپینې خبرې وې چې پاکستان ته یې هغه څه وویل چې نورو ټېرو ولسمشرانو او چارواکو نه وو ویلي، ټرمپ پاکستان ته په ځرګنده او په ډاګه په خپل لومړني ټیوټ کې ولیکل:**«امریکا په تېرو پنځلو کلونو کې له پاکستان څخه پرته له (درغو او غولونې) بل څه نه دي لیدلي.»** (۲۰۱۸ز، کال)

ټرمپ وویل:«متحده ایالاتو په تېرو پنځلو کلونو کې له ۳۳میلیاردو زیات ډالر پاکستان ته په ساده ګی سره ورکړي دي، **خو هغوی پرته له درغو او تېرایستلو نور څه موږ ته نه دي راکړي، دوی په دې ګومان وو چې د امریکا مشران احمقان دي.»**

هغه زیاته کړه:«پاکستان هغو ترهګرو ته د امن پټنځایونه ورکړي دي چې موږ په افغانستان کې پسې ګرځو او له موږ سره یې چندان مرسته نه ده کړې. نور نه.» ((https://8am.media

ټرمپ ولیکل:«نور موږ پاکستان ته میلیاردونه ډالر نه ورکوو، ځکه دوی زموږ پیسې اخلي او زموږ لپاره هېڅ نهکوي. بن لادن (د القاعده پخوانی مشر او د دې ډلې بنسټ ایښودونکی) یې ښکاره بېلګه ده، افغانستان یې هم بل مثال دی، پاکستان یو له هغو څو هېوادونو دی چې له متحده ایالاتو پیسې اخلي او په بدل کې یې هېڅ نه کوي.

ټرمپ په یوه بل ټویټ کې لیکلي وو:«موږ باید اسامه بن لادن ډېر پخوا نیولی وای، د سوداګرۍ پر نړیوالو مرکزونو تر حملې مخکې ما په خپل کتاب کې د هغه په اړه دا خبره کړې وه، پر هغه د ولسمشر کلېنټن ډز خطا شو، **موږ پاکستان ته میلیاردونه ډالر ورکړل او هغوی هېڅکله هم راته ونه ویل چې بن لادن چېرې دی، دا احمقانه ده.»**

له دې مخکې ټرمپ له امریکایي فاکس نیوز تلوېزیون سره په یوه مرکه کې چې د یکشنبې په ورځ خپره شوه، ویلي وو:«په پاکستان کې ټول په دې خبر وو چې بن لادن د پاکستان په تر ټولو امن سیمه ایبټ آباد کې د پوځي اکاډمۍ په خوا کې آرام اوسي، خو هیچا دا خبره ونهکړه، بلکې برعکس یې له موږه په کال کې ۳،۱ میلیارد ډالر مرسته هم ترلاسه کوله.»

له دې مخکې ولسمشر ټرمپ د تېر کال په اګسټ کې د افغانستان او جنوبي اسیا لپاره د خپلې نوې ستراتیژۍ د اعلانولو پر مهال هم پر پاکستان سخت انتقاد کړی ؤ او ویلي یې وو چې دې هېواد په خپله خاوره کې هغو ورانکارو ډلو ته پناه ورکړې چې په افغانستان کې پر امریکایي سرتېرو حملې کوي.

د ټرمپ اداري چې له پاکستان سره د سلګونه میلیونو ډالرو کلنۍ مرسته بنده کړه، ویلي چې که اسلام آباد د افغانستان په جګړه او د سولې په پروسه کې مثبت رول ونه لوبوي، نور به دغه مرستې ورنه کړل شي.

د پاکستان صدراعظم عمران خان د ټرمپ په ځواب کې وویل:«امریکا دې دا مسئله جدي وڅېړي چې د افغانستان په جګړه کې د ناټو د ۱۴۰ زرو ځواکونو او نورو ۲۵۰ زرو افغان ځواکونو او دغه راز د یو ټریلیون یا زر میلیارده ډالرو په مصرفولو سره ولې طالبان نن ورځ تر پخوا ډېر پیاوړي دي؟»

د پاکستان صدراعظم عمران خان د امریکا په مشرۍ د ترهګرۍ په وړاندې جګړه کې پاکستان ته د اوښتو زیانونو په اړه وویل چې هېواد یې په دغه جګړه کې ۷۵ زره تنه تلفات ورکړي او له اقتصادي پلوه هم څه باندې ۱۲۳ میلیارده ډالر ورته زیان رسېدلی، خو امریکا یوازې ۲۰ میلیارده ډالر ورکړي دي.

عمران خان زیاته کړه:**«ایا ټرمپ کولای شي چې د بل داسې یوه متحد نوم واخلي چې دومره قرباني یې ورکړې وي؟»** (آزادي راډیو: دوشنبه ۱۰ سلواغه ۱۴۰۱ کابل)

«ټرمپ د ۲۰۱۸ز، کال د جنورۍ په میاشت کې اعلان وکړ چې که پاکستان د امریکا غوښتنې ونه مني نو امنیتي مرستې به ورسره قطع کړي، کانګرېس فیصله وکړه چې پر پاکستان باندې دې ۵۰۰ میلیونه ډالره امنیني مرستې بندې شي. خارجه وزیر پومپیو له پاکستان څخه وغوښتل چې که غواړي دغه مرستې ورسره وشي نو باید چې هغه هیواد طالبانو ته په خپله خاوره کې ځای ورنه کړي او هغوی سیاسي حل ته مجبور کړي. پر پاکستان باندې د متحده ایالاتو مرستې په داسې وخت کې بندېدلې چې هغه هیواد په پوروونو کې غرق وو او دغو مرستو ته یې د خپل پوځي لګښت او اقتصادي پروګرامونو د عملي کولو لپاره ضرورت درلود... .» (کارتر ملکازیان: په افغانستان کې د امریکا جګړه. ژباړن: عبدالباري جهاني.۶۴۷مخ)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وروسته د ټرمپ له ولسمشرۍ څخه د امریکا د متحده ایالاتو د ولسمشرۍ ټاکني جوبایډن وګټلې لکه وړاندې چې یادونه شوي ده **جوبایډن چې یو انګرېز توکمه امریکایی دی** له پاکستان څخه د یو انګرېز په څېر په کلکه دفاع او ملاتړ کوي، دا له پاکستان څخه د بایډن ملاتړ ؤ چې د پاکستان په غوښتنه یې له افغانستان څخه ناسنجول شوي لیونۍ تېښته وکړه او په چټکۍ سره یې امریکايي پوځونه وایستل چې له امله یې د امریکا تاریخ ناولی کړ.
پر دغو ټولو تهدیدنو سربېره پاکستان د افغانستان او امریکایانو په اړه په خپله پالیسۍ کې بدلون رانه وست او تر پایه یې هغه څه ترسره کړل چې زړه یې غوښتل. «پاکستان پر خپل دریځ ټینګ ودرېدی، پاکستان له طالبانو سره د اړیکو شلولو ته تیار نه وو، د پاکستان لوی درستیز جنرال باجوه باوري وو چې طالبان به میدان وګټي او که امریکا مرستي ورسره بندي کړي نو چین له هغه هیواد سره مرستو ته حاضر دی، **پاکستانیو جنرالانو به هر وخت د امریکا جنرالانو او ډیپلوماټانو ته لاپې کولې چې طالبان له هغوی څخه حتماً جنګ ګټي.»** (کارټر ملکازیان: ۶۴۷)
د پاکستانیانو لاپې چې طالبان به جګړه ګټي په حقیقت بدلې شوې او په پای کې امریکایان له افغانستان څخه په ناکامۍ او ډېر بد حالت کې وتښتیدل، چې له امله یې لویه تاریخي بې شرمي ورتر غاړې شوه. په افغانستان کې د امریکایانو په ماتولو کې رښتیا هم پاکستان ډېر ښه رول ولوباوه، خو بیا هم امریکایان له آره تر نن ورځې د پاکستان پر خوا ولاړ دي، موږ نه پوهیږو چې امریکایان ولې ښه او بد نه پېژني؟ ولې د دوست دښمن توپیر نه شي کولی؟ د امریکا سیاستوالو په پرتله زموږ عادي، حتا بې سواده وګړي ښه تحلیل او وړاندوینې کولی شي چې یوه بېلګه یې داسې ده چې په ۲۰۰۱ ز، کال کې چې د طالبانو امارت له منځه ولاړ، په هغه شپو ورځو کې زموږ د کلي جومات ته دوه تنه طالبان چې د وزیرستان اوسیدونکي وو راغلل، د خبرو اترو په بهیر کې یو تن وویل:«اوس د پاکستان او امریکا تر منځ جګړه ونښته چې دا جګړه به پټه او اوږده وي او په پای کې به د روسانو په څېر امریکا هم ماتیږي.» موږ د هغه کس خبرو ته کوم ارزښت ورنه کړ خو دا ډېره حیرانوونکي ده چې وروسته له شلو کلونو د هغه وړاندوینه کټ مټ عملي شوه، دا هم حیرانوونکي ده چې عادي وګړي په دې پوهیدل چې پاکستان له امریکا سره په دښمني او نیابتي جګړه کې ښکېل دی خو امریکا تر پایه په دې پوه نه شوه چې پاکستان څه ډول چلند ورسره کوي. ما چې د پاکستان په اړه د امریکایانو پالیسي څارلې ده، نو د یو انګرېز هغه خبره رایاده شي چې ویلي یې وو:**«موږ عقل او پوهه لرو، مګر پېسې نه لرو، امریکایان پېسې لري، خو عقل او پوهه نه لري.»** دا خبره رښتیاد ده چې امریکایان پېسې لري، مګر عقل نه لري او دا هم مشهوره ده چې وایي:(پېسې له خره څخه سړی جوړوي.)
امریکایانو د پاکستان پر وړاندې داسې چلند غوره کړی دی چې یو سړي له یو بل سړي څخه د هغه ښځه وتښتوله، کله چې یو کال تېر شو نو د هغې ښځې له دوېم مېړه څخه زوی پیدا شو، نو د ښځې پخوانی مېړه چې خبر شو، تښتیدلې ښځې یې زوی زیږولی دی نو حلوا یې پخه کړه او د ښځې د استوګنځي پر لور روان شو، په لار کې چا پوښتنه ترې وکړه فلانیه چېرته درومې؟ هغه وویل: زما د پخوانۍ ښځې زوی پیدا شوی دی، حلوا پسې وروړم او د روغتیا پوښتنه یې هم کوم!.
امریکایان اوس هم له پاکستان سره دوستي کوي، سره له دې چې د پاکستان له لاسه په شرمو وشرمیدل، **ښځه یې ترې بوتله، بیا یې ورته لنګه کړه اوس حلوا هم پسې وروړي.**
نېټه
نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځېر و لولئ